# د ټاکنیزو شکایتونو او اعتراضونو کړنلاره

دغه کړنلاره د افغانستان د ټاکنو دقانون د ۶۶ مې مادې پربنسټ د ورکړل شویو واکونو له په پام کې نیولو سره د ټاکنو دخپلواک کمیسیون له خوا د بیلابیلو ټاکنیزو پروسو په بهیر کې د اعتراضونو او شکایتونو پورې د اړوندو چارو د تنظیم په موخه تصویب شوې ده.

**د تطبیق ساحه**

**لومړۍ ماده:**

د غه کړنلارپه لاندینیو ټاکنو کې د سیاسي ګوندونو او کاندیدانو په ټاکنیزو مبارزو پورې اړوندې چارې تنظیموي :

۱- د جمهوري ریاست ټاکنې
۲- د ولسي جرګې ټاکنې
۳- دولایتي شورګانو ټاکنې
۴- د ولسوالی شوراګانو ټاکنې
۵ ـ د کلي دشوراګانو ټاکنې
۶ـ دښا روالانوټاکنې
۷ ـ دښاروالی د غونډ وټاکنې

**د اعتراض او شکایت حق**

**دویمه ماده:**

دغه افراد کولای شي د کاندیدانو په شرایط برابروالي باندې اعتراض وکړي اویا د دې کړنلارې په څلورمه ماده کې د یادو شویو سرغړونو په باب شکایت ولیکي :

1. د رایو ورکولوپه شرایطو برابر ټول افراد
2. د سیاسي ګوندونو استازې ،کاندیدانو اومسؤله حکمی شخصیتونه

**اعتراض**

**دریمه ماده:**

1. اعتراض د کمیسیون له لوري په ټاکل شوي وخت کې د کاندیدانو په لنډمهال لست کې د یو شامل کاندید په شرایطو د نه برابروالي په اړوند د رسمي سند لیکل دي.
2. د کاندیدانو په لنډمهال لست کې د شامل کاندید په شرایطو د نه برابروالي په اړه اعتراض د ټاکنیزو شکایتونود کمیسیون په نامه لیکل کیږي. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د دغه کمیسیون د کورنیو کړندودونو له په پام کې نیولو سره لیکل شوي اعتراضونه څیړي او له لست څخه د کاندید دلرې کولو د پریکړې په صورت کې کمیسیون په رسمي ډول دټاکل شوې مودې په بهیر کې په رسمي ډول خبروي.

**شکایت**

**څلورمه ماده:**

1. اعتراضونه د ټاکنو د قانون په ۶۳ مه ماده او د کمیسیون له خوا په اټکل شویو کړندودونو او کړنلارو کې د اټکل شویو سرغړونو په اړه د رسمي سند له لیکلو څخه عبارت دی.
2. شکایت د پیښې له کیدو ورسته د ۷۲ ساعتونو په بهیر کې باید په لیکلي ډول د ټاکنیزو شکایتونو به نامه ولیکل شي.

**د ټاکنیزو شکایتونو له کمیسیون سره همکاري**

**پنځمه ماده :**

ټاکنیزکارکوونکي په مرکز او ولایتونو کې مکلف دي د اعتراضونو او شکایتونو د څیړنې په اړوند په قانوني موده کې د ټاکنیزو شکایتونو له کمیسیون سره همکاري وکړي.

**<u>د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون</u>**

**شپږمه ماده:**

د اعتراضونو او شکایتونو په څېړنې پورې نور اړوند موارد د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون له لورې ددغه کمیسیون په کورنیو کړنلارو کې تنظیمیږي.

**<u>انفاذ</u>**

**اوومه ماده:**

دغه کړنلار د تصویب له نیټې څخه نافذه او خپریږي.